مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق

۲۰۲۶/۰۹/۲۲

# پانه بېرته راکړه

## لنډه قصه

هغه مازدیګر باد یو څه ډېر په عجله کي وو. د مالمو باد وي همداسي. سمندر له ځانه را شړلی وي، دی آواره پر سړکانو او کوڅو کي وارخطا او سرګردانه دوري هوري ځغلي.
د سړک دوړي ئې هم په مخه کړي وي، تېز و تند روان وو. د ونو له پکو ځانګو څخه ئې ژړي پاڼي په حمله را بېلولي او د ښار واړه، سپک او بې ښختنه شیان، چي چا ئې پوښتنه هم نه کول، له ځانه سره ګرځول: رسیدونه، د اخبار ټوټې، د سګرېټو پوچکان او د کاغذ پرزي. خلک به ولي د ده له منګولو دا امبار را خلاصوي او خوندي کوي بې، چي خپله ئې ایسته اچولي ول.
زه پر پیاده رو د باد پر مخ روان وم چي د کاغذ یوه پاڼه په رغړېدو، رغړېدو له لیري زما پر لور را روانه وه. پر مځکه ئې کرملاغونه وهل، وا به وښته، را وا به وښته، پر ډمبر به ئې کله ملا ومښته، کله به پر سینه کش سوه، باد به پورته وغورځول، بېرته به را ولوېده. له همدې کرتبونو سترې تر ما را ورسېده او پر پښه مي را وېېچل سوه.
لکه له باده چي پناه راوړي وي زما و قدمو ته!
ودرېدم.
څو شېبې مي ورته وکتل. سترې ښکارېده، لکه له ډېر لیري چي راغلې وي او بالاخره زما پښو ته رسېدلې او تسلیم سوې وي. باد خپل ټول زور په ولګوی، خو زما پښه ئې ټینګه نیولې وه، ایله ئې نه کړه. څلور سره کونجونه ئې داسي تېز رېږدل لکه اوس چي بې ظالم باد دا څلور واړه غړي ور وشکوي او له ځانه سره ئې والوزوي.
ور ټیټ سوم، ژر مي را واخیسته.
پاڼه پر منځ کټ سوې وه. د یوه کونج غوږ ئې پرې وو. باد وهلې وه. پر مخ ئې د چا د لاس لیک وو.
باید بېرته مي ایښې وای.
خو له خبیني هوا ئې پناه زما و قدمو ته راوړې وه، څنګه مي بېرته و مرګونو څپو ته ور سپارلې وای؟
وخت د ژوند دومره مزل راباندې وهلی وو چي د نورو د پټو کیسو د رابرسېره کولو تنده راکي مړه سوې وه. اوس نو پوهېدم چي د بل انسان شخصي خبري د تړلو وره په شان دي، او شریف سړی د تړلو دروازو له سوريو نه ور ګوري.
نور نو شریف سوی وم.
خو سترګي مي پر لومړیو دوو ټکو ولګېدې:
زما محبوبې!
په ځان خبر نه وم چي پر شونډو مي یوه موسکا غلې غوړېدلې وه.
یو وخت زه هم د عاشقانو د دې زړې او لیونی قبیلې په قوم وم.
د سړک دواړو خواوو ته مي وکتل.
هېڅ چا په کوم ورک سوي لیک پسي مندي نه را وهلې. نه چا په وارخطایي جېبونه پلټل. نه هم کوم موټر د دې لیک په لټه شا و خوا ولاړ وو.
پر دې خالي لاري یوازي موږ درې وو:
زه، پاڼه او دا شله باد.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څېر و لولئ

ليک مي شروع کړ، ومي لوست:
زما محبوبې!
مخکي له دې چي فيصله وکړې چي زموږ تر منځ نور هيڅ نه دي پاته، يو وار دا هم در په ياد کړه چي يو وخت زموږ تر منځ هر څه وه.
دلته لږ تم سوم.
د خپل تېر ژوند يوه غميزه مي پکښې وليده.
بيا مي ولوستل:
هغه د ژمي يو ماښام دي په ياد دئ چي آخري بس راغخه ولاړ او موږ په ماتاوې کي پلي کور ته روان سوو؟ توله لار دي جنجال کاوه چي زما له لاسه بس ولاړې، خو لاس دي يوه شيبه هم زما له لاسه جلا نه کړ.
هغه کوچنى کافي شاپ در په ياد کړه چي موږ به ئې د کړکۍ څنګ ته کښېنستلو. ما چي به دباندي کتل، زما د قهوې بوره به دي غلا کوله، سره له دې چي ستا خپله قهوه به لا له مخه ډېره خوږه وه. ما به قصداً ځان درته په قهر کاوه، څکه زما پر قهر تا ته خندا درتله، او ما نوره غوښتل چي و ئې وينم. ستا خندا بېحده راباندي ګرانه ده.
او هغه شپه چي برق ولاړ او موږ پر بام ناست وو. ما ويل، تياره دنيا کوچنۍ کوي. تا ويل، تر څو چي په دې دنيا کي ته راسره ئې، دا دنيا ډېره غټه ده.
هغه احمقانه جنګونه مو در په ياد کړه چي په دا سبا به مو په ياد هم نه وه چي ولي مو کړي ول. اوږده مزلونه در په ياد کړه چي په ساعتو به مو خبري نه وې سره کړې، خو کور ته به داسي ستنېدو لکه هر څه چي مو يو بل ته ويلي وي.
يوازي هغه څه مه يادوه چي خراب ول او مات سول. دا هم در په ياد کړه چي تر ماتېدو مخکي څه موجود وه، څه ښه وه.
دلته ليک درېدلى وو.
د پاڼي يوه ليکه تشه وه.
ښايي ليکوال هم دلته يو څه وخت درېدلى وي، دردېدلى وي.
زه هم ودرېدم.
د ده پر درد، او هم پر خپل يوه زاړه درد تم سوم.
بيا لاندي ليکلي ول:
زه نه درته وايم چي هغه درد هېر کړه چي ما درکړى دئ. د دې غوښتني حق هم نه لرم. يوازي دا درڅخه غواړم چي زموږ وروستى فصل ټول کتاب مه ګڼه.
که بايد ولاړه سې، ولاړه سه.
خو ځان ته دا مه وايه چي موږ تل بدمرغه وو.
زموږ د وروستيو ورځو د ګناه جزا زموږ ښکلو ورځو ته مه ورکوه.
او د پاڼي په پای کي ليکلي وه:
يو وخت تا هم له ما سره مينه درلوده.
نوم نه وو.
زه د سړک پر غاړه ولاړ وم او پاڼه مي په لاس کي نيولي وه.
ناڅاپه کاغذ ډېر درونږ سو.
چا به دا ليکلی وي؟
ښايي کوم چا په ډېر فکر ليکلی، کټ کړی ئي وي، په جېب کي ئې ايښی او د محبوب پر لور روان سوی وي، خو تر دې مخکي چي د ده جرئت خپل کار وکړي، باد خپل کار کړی وي.
يا ښايي محبوب ته رسېدلی وي.
هغي لوستی وي، يا ښايي لوستی ئي هم نه وي، همداسي ئي پر سړک د نورو سپکو اشغالو منځ ته ور غورځولی وي.
دې خيال تر ټولو ډېر خفه کړم.
ما داسي څوک تصور کړ چي د جواب په انتظار تک تنها به يو ځای ناست وي...خو د ده خبري د ښار پر سړکونو د باد لوبه ګرځېدلې وه.
بيا بل خيال راغی.
ښايي دا ليک اصلاً د لېږلو لپاره نه وو.
په خيال کي مي يو څوک وليد.
يوازي پر مېز ناست دئ.
ليکي. ودرېږي. بيا وليکي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

تر هغه چي د زړه ټول شور ئي پر کاغذ توی سي او په ده کي يوازي سټړيا پاته سي.
بيا پاڼه په دواړو لاسونو ونيسي.
د ځيرلو هڅه ئي وکړي.
خو لاسونه ئي وربېږدي او ودربېږي.
زه په دي درېدو پوهېدم.
ځيني خبري... ليکل ئي اسانه وي، خو له منځه وړل ئي نه. کله چي درد په جمله بدل سي، بيا يوازي درد نه وي.
شکل پيدا کړي. وجود پيدا کړي. ته ئي په خپلو ګوتو کي نيولای سې. لمس کولای ئي سې.
ته کاغذ نه ځيرئ.
ته هغه لاس ځيرئ چي د سپوږمۍ په رڼا کي دي نيولی وو. ته د کافي شاپ له کړکۍ سره هغه غلا سوې بوره ځيرئ. ته هغه انسان ځيرئ چي ته هغه وخت وې، کله چي ته هم محبوب وې.
ښايي د هغه لاسونو دا کار نه سوای کولای. ښايي کړکۍ ئي خلاصه کړې وي. او پرېکړه ئي باد ته سپارلې وي.
هغه ظالم باد چي اوس ئي احساس په کوڅو کي په لغتو وهي.
ما ليک يو ځل بيا ولوست. بيا مي په ډېر احتياط پر هماغه زاړه کت، کت کړ.
يوه شېبه مي فکر وکړ چي بېرته ئي همدلته پرېږدم. آخر زما خو نه وو.
خو باد له شا څخه راته کتل. په لکۍ ئي د پاني څنډي راښخه کشولي.
ليک مي د کوټ په جېب کي کښېښود.
په دي پوه نه سوم چي محبوب پاته سو که ولاړ، ليک ورک سوی وو، غورځول سوی وو، که چا په لوی لاس باد ته سپارلی وو.
له هغي ورځي وختونه تېر سوي دي. هغه ليک لا هم راسره دئ.
کله کله، د شپي ناوخته چي باد زما د کور دروازه ټينګه ټينګه په لغتو ډبوي او کړکۍ په سوکانو دربوي، پوهېږم چي وايي:
پاڼه بېرته راکړه.

محمدسميع صادق


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ